مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۷/۰۲

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۸۸مه برخه

د ښښتنو بدهریواجه
یار چې ولور پوره کوي، زړه به یمه

اندیښنو جګغرونه اوبه کړل
افرین ماته چې پرېښنو ولاړهیمه

ځانته رباب کتاب پیدا کړه
د تویک مینه دې مرګي ته کشوینه

پر ما دې کړي څه بلا ده
چې د قدم خاوره دې جیب کې ګرځومه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

زما و ستا جوړه ونهشوه
که کلیوال دې بزرګان شي څه بې کړمه

زما لالیه، لیونیه
چې لیونی شوې، زه دې هم لیونی کړمه

زه به يې ولي نهسوځېږم
جانان په سترګو کې اورونه کرځوینه

زما د زړهطاقت ته ګوره
دومره غمونه رالېږه چې زه يې ورمه

یار له یارئ نه په شالاړو
اوس پرخونخوارو لار زه وریسيځمه

یا به زما نصیب خراب وي
یا به دا تولې یاراني همداسي وینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

**يوه مې دا خبره واوره**
**چې نرسړی به د دله له لاسه مرينه**

**يوموټی زړه دی، پام دې نيسه**
**چې داسې هرڅه ته يې خورې، تمام بهشينه**

**ما به پردی وطن برباد کړي**
**تا به زړه کړي مدام سوچ او پېغورونه**

**مينه مې پټه وه، رسوا شوه**
**د جانان غېږ پسې سرتوره ووتمه**

**مور به دې مخ او رنګ ته ګوري**
**خو بده ښځه بيا جيبونه لټوينه**

**مينه دې کړه، په سترګو ړوند وې**
**بيلتون دې نه ليده چې غرونه ړنګوينه**

**د خوشالو دوران مې تېرشو**
**اوس راپسې د خپګان ډکژوندون راځينه**

**د سينګارونو وخت مې نهدی**
**اوس د سينګار په پيسو اخلم کتابونه**

**د زړګي زور مې پاتې نهدی**
**ګله کيسې دې لنډوه، ستړې دې کړمه**

**د جانان مينه راته نهشته**
**خوشې پاګل له ځانه ولې جوړومه**

**د دروازې ملنګه پاڅه**
**الله دې ملشه، موړه ور پورې کوونه**

**د مازديګر ديدن يې ګرانشو**
**مور يې شکمنهشوه، منګی نهورکوينه**

**د زړه رضا دې وه چې لاړې**
**ګنې قرآن دې مخ ته چا نيولیونه**

**د زړګي زور مې ختم شوي**
**ژونده مزل دې لنډوه، ستړی دې کړمه**

**د سترګوګاتې مې خوږېږي**
**ستا د راتلو لار ته مې ډېرکتليدينه**

**د پښتنو بدهريواجه**
**يار چې ولور پوره کوي، زړه به يمه**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**اندیـښنو جګغرونـه اوبـه کړل**
**افرين ماته چې پرېښو ولاړه‌یمه**

**تېوتې، تېوتې زړه بـه راټول کړم**
**بیا بـه پـه نوم د یارانې سړی رټمـه**

**تا پورې ځان موښل پـه کار دي**
**کـه راتـه وګورې د سرو زرو بـه شمـه**

**پـه نیمګښو تمبو کې ګورې**
**بیخ دې خدای شین‌کـه، زه پربام ولاړه‌یمه**

**پـه ویښنه یوځلې رانغلې**
**پـه خوب کې نښې راکوې چې دربه‌شمـه**

**پـه مرګ دې نـه مرې، جانان خوږ دی**
**نېسمن دې دومره شي چې زه وریاده شمـه**

**پر ما دې کړې څه بلا ده**
**چې د قدم خاوره دې جیب کې ګرځومه**

**کـه غریبي دونیا کې نـه‌وای**
**د مینـې یـار بـه رانـه ولې بېلـېدنـه**

**کـه دیوالګی وای، ما بـه ړنـګ وای**
**لالیه نـه ړنـګیـږي شوي نصیبونـه**

**کـه راروان یې، نو راتیز شه**
**حالات خراب دي، پـه ښاروو مې بدلوینـه**

**ګیلـه لـه خپل سړي نـه کـېږي**
**تـه زما څه یې چې ګیلې درنـه‌کومـه**

**ځان‌تـه رباب واخلـه جانانـه**
**د ټوپـک مینـه بـه دې ورک لـه ملکـه کړینـه**

**ځان‌تـه رباب کتاب پیدا کړه**
**د ټوپـک مینـه دې مرګي تـه کشوینـه**

**ښاغلیـه راشـه کـه دیدن کړې**
**زه اخري سلګۍ وهم، دونیا پرېږدمـه**

**چې مخامخ راباندې راشې**
**نـامردې مه‌نیسه سپین‌مخ تـه پلونـه**

**چې ما ویل، نـه دې منلـه**
**اوس مې د زنـې سرتـه مه‌نیسه لاسونـه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خوبه د خدای د پاره لاړ شه**
**د وصال‌شپه یار سره ویښه تېرومه**

**څومره بی قدری لامبوزن یم**
**زه ورته ګورم لالی څړی اوبه وړینه**

**لکه د مار یې منجیله‌کړم**
**د پاړوګر په شان دمونه چوفکوینه**

**لکه باران یوځلي راشه**
**د بیلتون باد مې لکه خاورو غوندې وړینه**

**نصیب زما یا مې د یار دی**
**په اور دې وسوځي دا دواړه نصیبونه**

**ستا د وریښمو شال پرسردی**
**زما شړی ده، ستا به څنګه خوښه‌شینه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ